د لوړو زده کړو وزارت
وزارت تعلیم العالي

**وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه**
جامعة وردک

## د شرعیاتو پوهنځي
## كلية الشريعة

## د اسلامي تعلیماتو څانګه
## قسم التعليم الاسلامي

د اړیکو شمېرې: 0785501347 او 0777524613

برېښنالیک: wahdatwardak028@gmail.com

فسبوک: د شرعیاتو پوهنځي رسمي پاڼه

پته: توپ دښته، سیدآباد ولسوالي، میدان وردک ولایت، افغانستان

کال: ......................................................................۱۴۴۶

# د اسلامي تعلیماتو څانګه

د اسلامي تعلیماتو څانګه د شرعیاتو پوهنځي د ایجاد سره سم په ۱۴۰۱ هـ.ل کال کې ایجاد شوې ده. تردې مهاله فارغین نه لري. په ۱۴۰۱ هـ.ل کال کې ورته لومړی دوره محصلین د کانکورازموینې له لارې معرفي شول. دغه څانګه ۴ تنه لیسانس استادان لري چې نومونه يې په ترتیب سره: نوماند پوهنیار شیخ مولوي صفت الله حقاني، نوماند پوهنیارفریدالله وحدت، نوماند پوهنیار انعام الله حنیف، نوماند پوهنیار عبداللطیف عثمان دي. د اسلامي تعلیماتو د څانګې تخصصي مضمونونه عبارت دي له: حفظ او تجوید، العقیدة، حدیث العبادات، فقه العبادات، تفسیر، علوم القرآن، علوم الحدیث، فقه الأحوال الشخصية، فقه المعاملات، النظريات الفقهية (الحق والالتزام والملكية)، النظام الاداري في الاسلام.

د اسلامي تعلیماتو څانګې د خپلو ټولو محصلینو لپاره د زده کړو په برخه کې مناسب امکانات رامنځته کړي دي، تدریسي بهیر يې له معاصرو میتودونو سره سم د نوې تکنالوژۍ په مرسته پرمخ وړل کیږي.

لرلید

د اسلامي تعلیماتو څانګه په عدلي، حقوقي او قضائي ارګانونو کې د کارکولو په موخه مسلکي کادرونه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کوي، ترڅو په و اقعي توګه دین، هېواد او هېوادوالو ته د خدمت جوګه شي او دغه څانګه د شرعي علومو په برخه کې له نړیوالو معیارونو سره سم د یو تخصصي مرکز حیثیت غوره کړي.

وجهة النظر

يهدف قسم التعليم الإسلامي إلى تدريب كادر متخصص ومهني لخدمة المؤسسات التعليمية والعدلية، ليكونوا مصدر خدمة حقيقي للدين والوطن والمواطنين، وليصبح القسم مركزًا علميًا معتمدًا بمعايير عالمية في مجال التخصص بالعلوم الشرعية.

رسالت

داسلامي تعلیماتو څانګه د هېواد په کچه یوه منل شوې څانګه ده او د خپلې ټولنې د پرمختګ لپاره علمي څېړنو ته لار هواروي، د اسلامي تعلیماتو څانګه دې ته ژمنه ده چې له اړتیا سره سم داسې کادرونه وروزي، چې ټولنې ته ښه خدمات وړاندې کړلای شي.

الرسالة

يعد قسم التعليم الإسلامي قسمًا معترفًا به على مستوى الوطن، ويفتح الطريق أمام البحوث العلمية من أجل تقدم المجتمع، وهو ملتزم بتدريب كادر لتقديم خدمات جيدة للمجتمع وفقًا للاحتياجات.

موخې

۱. د قرآن کریم، نبوي احادیثو او اړونده علومو او اصولو مسلکي زده کړه او د هغود اساسي مصادرو پېژندنه.
۲. د توحید د صحیحې عقیدې پېژندنه او خپراوی.
۳. د نبوي صحیح سیرت زده کړه او په ژوند کې یې عملي کول.
۴. په نړۍ کې د مختلفو ادیانو پېژندنه او د انحر افاتو بیان.
۵. د اسلام د مقدس دین د مصادرو په وړاندې د نورو ډلو د دریځ بیان او د هغود شبهاتو له منځه وړل.
۶. د اسلامي او شرعي اصولو په رڼا کې د خپلو دیني مقدساتو څخه دفاع کول.

**ألأهداف**

1. التعليم المهني للقرآن الكريم والأحاديث النبوية والعلوم ذات الصلة بهم وأصولها، والتعرف على مصادرها الأساسية.
2. التعرف على العقيدة الصحيحة للتوحيد ونشرها.
3. تعلم السيرة النبوية الصحيحة وتطبيقها في الحياة.
4. التعرف على الأديان المختلفة في العالم وبيان انحر افاتها.
5. توضيح مو اقف الجماعات الأخرى تجاه مصادر الدين الإسلامي المقدس، وإزالة الشبهات.
6. الدفاع عن المقدسات الدينية في ضوء المبادئ الإسلامية والشرعية.